ورځپانه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال ۳۸مه گڼه پرله پسې (۱۴۱۸) یکشنبه د۱۴۲۲ هـ ق کال دربیع الاول (۱۱) د ۱۳۸۰ هـ ش کال دجوزا دمیاشتې (۱۳) د۲۰۰۱ میلادی کال دجولای (۳)

الهی فرمان

ای رسوله بې شکه ته مو شاهد ، زیری ورکوونکی ، ویروونکی او دالله په حکم سره دهغه (ددین) خواته بلونکی او روښانه څراغ لیږلی یې او (څکه نو) مؤمنانو ته زیری ورکړه چې هغوی ته دالله «ج» نه لوی فضل (تیاکل شوی) دی - الاحزاب -۴۵-۴۶

محترم عبدالهادی «ملاخیل» رئیس موسسه خیریه اسلامی الرشید ترست در مصاحبه باخبرنگار روزنامه شریعت :

در صورت مسدود شدن خبازی های UN در کابل ،الرشید ترست آماده است تا توزیع مساعدت را به عهده بگیرد

تقاضای ما از موسسات خیریه اسلامی این است تا جبران این مساعدت را در افغانستان بکنند

کابل - شریعت :

در صورتیکه سازمان غذائی جهان (W.F.P) خبازی های مربوط خویش را الیٰ پانزدهم جون در کابل مسدود نماید ؛ موسسه خیریه اسلامی الرشید ترست آماده است تا دارندگان کارت خبازی های متذکره را از طریق خویش مساعدت نماید .

این مطلب را محترم مولوی عبدالهادی «ملاخیل» رئیس موسسه خیریه اسلامی الرشید ترست طی مصاحبه باخبرنگار ما اظهار داشته افزود ؛

این موسسه از سه ماه بدینسو ۶۰۰ خانواده نیازمند را از طریق دو خبازی خویش در شهر کابل که یکی آن در خیرخانه ودیگری آن در جاده عمومی کلوله پشته موقعیت دارد مساعدت میکند که برای هر دارنده، کارت پنج قرص نان با کیفیت ۴۰۰ گرامه را فی قرص مبلغ دوهزار افغانی توزیع میدارد ؛ البته واضح

ص۴



بَلَغَ العُلیٰ بِکَمالِهِ
کَشَفَ الدُّجیٰ بِجَمالِهِ
حَسُنَت جَمیعُ خِصالِهِ
صَلُّوا عَلَیهِ وَآلِهِ

د بهرنیو چارو وزارت معین محترم ملا عبدالرحمن زاهد دالمانی هیات سره په کتنه کی :

دافغانانو د سربندنو نتیجه ده

دمنځنی آسیاد هیوادونو خپلواکي

کوم هیواد چی په رښتینولی سره په افغانستان کی سوله غواړی ، موږیی هرکلی کوو

کابل :

دافغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزارت معین محترم ملا عبدالرحمن زاهد پرون له غرمی مخکی د خپل کار په دفتر کی د المان د بهرنیو چارو وزارت د اسیا د جنوب د څانگی له مسئول ښاغلی ډاکتر ستوف مولر او ددغه وزارت د بشری مرستو د دیپارټمنت له رئیس ښاغلی اریک ریدلر سره وکتل .

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ :

ددغی کتنی په بهیر کی د بهرنیو

۴ مخ

مولوی محمد شاه فضلی په حق ورسید

کابل:

په خواښینی سره مو خبر ترلاسه کړ چی دهیواد علمی او جهادی شخصیت او دافغانستان دحرکت انقلاب اسلامی دتنظیم پخوانی مرستیال محترم مولوی محمد شاه فضلی دهغی ناروغی له امله چی وریښه شوی وه پرون په حق ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

۴ مخ

سرک ولسوالی فراوود ترمیم گردید

فراه :

سرك قریه آرزوی ولسوالی فراوود ولایت فرا اخیراً ترمیم و مورد استفاده قرار گرفت .

آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد .

سرك متذکره که از سال ها قبل تخریب گردیده بود اخیراً به کمك مالی موسسه سی ا چ ای وهمکاری مردم قریه متذکره

ص ۴

یك حادثه ترافیکی در مسیر شاهراه هرات - کندهار

چهار شهید وسه نفر زخمی از خود بجا گذاشت

کابل - شریعت :

در اثر یك حادثه ترافیکی بین شاهراه هرات - کندهار چهارنفر از کارمندان اداره ماین پاکی

ص ۴

په سید آباد کی

یو نوی جومات جوړیږی

میدان وردگ:

دمیدا ن وردک ولایت دسیدآباد ولسوالی دسدوخیلو په کلی کی دیوه جامع جومات دبنسټ ډبره کیښودل شوه .

دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ :

دغه جومات چی دانه سوه پنځه پنځوس مربع متره ځمکی په ساحه کی په پاخه او اساسی ډول جوړیږی ځمکه

۴ مخ

د خټیځ زون د ترانسپورت اداری څه دپاسه څوارلس ملیارده افغانی گټلی دی

کابل :

دختیځ زون د ترانسپورت اداری په ۱۴۲۱ هجری قمری کال کی څوارلس ملیارده پنځه ملیونه یوسلو پنځوس زره افغانی د افغانستان د اسلامی امارت بودجې ته گټه رسولي ده یو مسئول خبر ځای دباختر اطلاعاتی آژانس خبریال ته وویل اوه ملیونه تنه مسافران د تیر کال

۴ مخ

په دریم مخ کي

هغه نورانی یتیم چی بشرته یی له جهالت تباهی او بربادی څخه نجات ورکړ

مولود مسعود ناجی بشر

ستر تحول

سرور پیغمبران

نعت شریف

په ژورنالیزم کی یو نوی کتاب چاپ او بازارته راووت

کابل :

«اطلاعاتی تبلیغی او ادبی ژانرونه» دادغه کتاب عنوان دی چی په دی وروستیو وختونو کی داطلاعاتو او کلتور وزارت لخوا په ښکلی کچه او صحافت

۴ مخ

معین وزارت معادن وصنایع از فابریکه پشمینه باقی دیدن نمود

کابل:

محترم معین وزارت معادن وصنایع قبل از ظهر دیروز از بخش های مختلف فابریکه پشمینه باقی پلچرخی دیدن نمود آژانس اطلاعاتی باختر خبر میدهد :

ص ۴

تامین سلامت هر طفل ، گامی بسوی پیشرفت کشور است

هرات - شریعت :

دین مقدس اسلام درخصوص رشد وحمایت از اطفال تاکیدات خاصی دارد همچنان طبیبان ودانشمندان علوم طبی و جامعه شناسی عقیده دارند که نود

ص۴

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

طلیعهء جهانتاب میلاد

هرگاهیکه تاریکی پیهم درتناوب می افتد وهرگاهیکه ظلم ظلمروایان قوس صعودی خود را طی می کندورویه نشیب وافول می اورد وهرگاهیکه مستکبرین ومستبدین راه ورسم معقول ومنطقی زنده گی را باکردارهای غرضی خویش سد نمایند وهرگاهیکه اختناق وترورووحشت به حد نهایی خویش برسدوهرگاهیکه فتنه ها حلقوم توده های آزاده را به سختی بفشردو «زندگي » را به مرگ ونابودی تهدید وتخویف کند ، وبشریت دربند آزمندان وشکم چرانان ، دیگرهمه راهها را برروی خویش بند احساس کند وامید ها وآرزو ها به یاس ونومیدی گراید، وآنگاه که مظلومان از وحشت متکبرین دست دعا والتماس واستمدادبه حق بلند کنند وآنگاه که فغانها ی عبادالله به سوی عرش خدای عزوجل امواج فضا را پاره کندوآنگاه که آخرین حجت الهی ــ

ص۲

امریکا از انکشاف برنامه راکتی ایران درهراس است

واشنگتن:

ایالات متحده امریکا نگرانی عمیق را از انکشاف برنامه راکتی ایران ابرازداشته است.

یك منبع وزارت خارجه امریکا ضمن ابراز این نگرانی گفته است که برنامه راکتی

ص۴

درپروان به اثر زلزله دونفر کشته شدند

پروان ،

دراثر زلزله نسبتاً قوی عصر دیروز درولایت پروان دو نفر هلاك یك نفر جراحت برداشته وبیش از پنجاه باب منزل خسارمند گردیده است .

آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد :

شدت این زلزله چار اعشاریه ۹ درجه ریکتربوده ومرکز آن درسلسله کوه ها ی هندو کش تثبیت گردیده است.

دراثر این زلزله دونفر زن هلاك یك نفر زخمی وبیش از پنجاه باب منزل رها یشی دردوقریه ولایت پروان خسارمند شده است .

فلسطینی مشرهاسر عرفات :

د بیړنی اوربند لپاره به هڅی کووم

بهرنی خبری سرچینې :

فلسطینی مشرياسر عرفات د پرون ترڅان سرگی یې پریکړه وروسته ژمنه کړی چې دیوه بې شرطه او بیړنی اوربند دراوستلو لپاره به هرڅه کوی د تیری ورځی په پې بریدونو کی چې تل ابیب کی رامنځ ته شوه اووه لس تنکی ښهیودان

۴ مخ

د نیپال ولیعهد د شاهی کورنی ۷ کسه ووژل

بهرنی خبری سرچینې :

د نیپال خلک د شاه بریندرا او د شاهی کورنی د نورو غړو د جنازی مراسم گوری چې تیره شپه په یو څه بی ترگه ووژل شول ، د شاهی کورنی کارکوونکو د نیپال په لرغونو تقلی کټوکي راغلستی او هندو درسال نه یې ورځ دوی مړی په هغه وسرځول شی . د پاچا زوی ولیعهد شهزاده دیپندر په ډو کړیه کی د خپلی کورنی پر غړو د تو پک خوله راخلاصه کړه او بیایی خپل ځان هم وویشت په ښکاره داسی بریښی چی ده داکار دخپلی ناوی د غوره کولو په اړه دکورنی سره ترسختو تاندیو کړی دی ، دی خپله هم اوس په روغتون کی دی او حالت یې نازک دی .

عراق دملگرو ملتو وړاندیز رد کړ

بغداد :

دعراق هیواد یو ځل بیا دخوراکی مواد و د پیرودنی لپاره ددغه هیواد دتیلو دپروگرام داوږدولو په باب دملگرو ملتو دسازمان دامنیت شورا

۴ مخ

میلاد مبارك رسول اکرم ﷺ نوید ی برای آزادی انسان از بنده گی انسان

شریعت

د تأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندی
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبری ګڼی بیه : په هیواد کی (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
ټیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات : ٦۲۸٥۹
پست بکس : (٤۷۱۱) کابل افغانستان
جاری حساب : ۳۸٥-٤ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتی ۷ مطبعه

بقیه سرمقاله

بر شرارت پیشگان تکمیل گردد . خالق کون و مکان «ج» جهت خروج ملل از بن بستها چاره ای را درمعرض اجرا ، می گذارد ونوری را بر تاریکیها وجهل وخرافه گرائی می فرستد ورخت لجاجت ها ولجاه گسیختگی ها را از بسط زمین جمع وطود می سازد .

به این ترتیب می بینیم که از زمان بعثت حضرت عیسی علیه السلام مدت زمانی زیادی سپری گردیده بود وآئین انجیل کتاب آسمانی در اثر توطئه های ملی وبین المللی تحریف گردیده بود که در اثر آن بشریت نادان و سرگردان راه وآئین زندگی را وقانون برحق را از دست داده بود و اربابان متعدد ومختلف بالای مردم احکام ساخت اراده خود شان را حاکم ساخته بودند . درچنین یك ماحول محروم بشری ، خداوند بزرگ جهت رهائی وآزادی توده های بشری طلیعه نجات را به صحنه وجود صفت گذاشت و آخرین رسول ونبی خویش ، حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم را برای پرورش انسان به نور وحی فرستاد و با میلاد پرمیمنت خاتم نبوت لطف ومرحمت خداوند شامل حال بشریت گردید .

این میلاد بزرگ میلادی بود که آینده ، همه بشریت به آموزش وپرورش و تزکیه و تصفیه وآگاهی و شعور دهی و ابلاغ احکام و فرامین الهی و تأمین صلح وصفا میان اقوام ، قبایل و ملل در حال جنگ وخشونت دائمی او وساختن انسان نو با مفکوره نو ، باتیوری نو ، باعمل نو وسر انجام ، احیای ارزشهای فراموش شده مدرسه نبوت ، بستگی داشت . وحقاکه این ولادت ، مسئله ساده وبسیط در زندگی بشر نبوده که بعد از بعثت او «ص» وظیفه اصلاح تمام بشر روی زمین مربوط و منوط به همین مکتب رسالت و نبوت می گردد که از جانب خالق هستی برایشان و برای رهروان شان سپرده میشود .

ربیع الاول ماه میلاد کسی است که در جامعه سراپا وحشت وخشونت و رذیلت وقتل و دزدی وقطاع الطریقی و ... زیست و بزرگ شد که باهیچ جرمی وباهیچ چیزی از قوانین منحرف آنزمان خونگرفت وفرزانه زیست ونفس این تجرید وعزلت و گوشه گیری از اخلاق فاسد آنزمان که هنوز وحی هم باوی تماس نگرفته بود ، از بزرگترین عجائب ومعجزه قرن بود .

یتیمی ومحرومی وغریبی و درس ناخوانده ای که در هیچ مدرسه و پیش هیچ عالم هم حتیٰ الفبا را نه آموخته بود وهیچکس هم اشتباهاً در مورد وی «ص» چنین شاهدی نداده است ، آینده را به دوش دارد که بشریت را در تمام ساحات زندگی اعم ازسیاست ودولت داری و تیوری وعمل واقتصاد و تجارت وتعلیم و تربیه و اداره وکنترول و عسکریت و دفاع و ..... الگوباشد وبتواند مشکلات فردی وجمعی آنان در حیات حل بکند و انسان را منحیث المجموع به راه واحد (صراط المستقیم) رهبری بکند که جز سلسله «نبوت» کسی را توان چنین مسئولیت خطیر و بزرگ مشکل است .بنهایه زمین می افتد و آتشکده ها خاموش وچنین باز تابهای را جز در قاموس حق علیه باطل نمی یابیم و این میلاد ، میلاد کسی است که جهان هرج ومرج و جنگ وقتل ونفاق وخونریزی وحسد وبغض رابه صلح وصفا و اخوت وبرادری و ایثار ،قربانی وآشتی و زدودن همه تبعیضها وتباه کاریها دعوت میدهد و درین راه به حیث پیشقدم اول و امام و رهبر رهنما می شوند . و تاریخ بشریت مثال چنین یك انقلاب بزرگ وجهانی عدل و انصاف ویکرنگی را در قاموس خود ندارد .

این میلاد ، میلاد کسی است که هزاران «اوسی ها» و «خزا جی ها» و اطراف به خون تشنه «جنگهای فجار» را از جنگهای بی مفهوم وبیهوده وخونریزیهای تا به حق که جز ویرانی شیرازه آن جلاح ، دیگر هیچ منفعت ومصلحتی برای شان نداشت ، باهم برادر می سازد و دست شیطانها ومنافقین را که در طول تاریخ میان خونریز ها کار گراست ، کوتاه می سازد و وحشتی که نشانه ، مردانگی وغرور ملتها گردیده بود ، از میان برمی دارد و امپراطوری های وحشت وضد ارزشها که به نام «فارس» و « روم » حکومت می راند ، از دیدن چنین یك فضا دیگر پوچی خودشانرا نمایان می کند ونمی تواند بیشتر ملتها را در جهل اسیر نگهدارد و استثمار کند و استضعاف کند و استعمار .

در حالیکه دوازدهم ربیع الاول این روز پرمیمنت میلاد ناجی بشریت وخاتم نبوت وعلمبردار صلح و صفا و انقلاب بزرگ اسلامی صلی الله علیه وسلم را به تمام مسلمین وملت مجاهد وکفر ستیز و رهروان اصلی خط نبوت و رسالت تبریك میگوئیم . از خداوند متعال استدعا مینمائیم تا ما رهروان ضعیف و عاجز و در بند هزاران زندان وحصار را مدد ونصرت دهد تا راهیکه انبیاء و رسولان برای ما ترسیم کرده است ، تعقیب نمائیم . راهیکه جز آن هر راه دیگر ذلت است و برده گی ، اسارت است و نیرنگ وحشت است و قانون جنگل .

تبصره

اندونیزیا او په دی هیوادکی دروان سیاسی بحران دوام!

دروان ۲۰۰۱ میلادی کال د می په میاشت کی داندونیزیا تقریباً روند ولس مشر «عبدالرحمن وحید» دبهو ، رشوتونو ، بی کفایتی او اداری فساد له امله دپارلمان د نمایندګانو په تیره بیا دپارلمان د رئیس «امین رئیس» له نیوکو ، او انتقادونو سره مخامخ او د دغه د استعفا ، او محاکمی ته د راکش کولو غوښتنه کوی خو د وحید پلویان هره ورځ د جاکارتا په واټونو کی د ولس مشر په پلوی لاریونونه او مظاهری کوی او شعار ورکوی چی د منتخب جمهور رئیس وحید په لری کیدو سره به د اندونیزیا سیاسی بحران ته پسی اورد شی .

ولس مشر وحید په قانونی توګه ځانته دا حق ورکوی چی له استعفا ځخه ډډه وکړی او پوځ ته یې امر کړیدی چی په بیړنیو حالاتو کی تیار سئ اوسئ .

د جنوب ختیځی آسیا دا مسلمان هیواد چی لس کاله وړاندی په کی د سوهارتو استبدادی رژیم حسنه له هغه راهیسی په دی هیواد کی د سیاسی ناو تریخوالی روان دی د «اجی» او «ایرن جایا» په دوو ولایتونو کی د مسلمانانو او عیسویانو په نښتو کی ډیر مسلمانان ووژل شول چی بالآخره د استبداد داخیره په ۱۹۹۸ عیسوی کال د می په میاشت کی دی ته اړه سره چی دخلکو اراډی ته غاړه کیږدی او په ځای د دغه مرستیال (بی ، جی ، حبیبی) د سوهارتو په مسند تکیه وکړه که څه هم حبیبی د تیر رژیم د اداری فساد او د هیواد د کمزوری اقتصاد لپاره هیڅ ونه کړل خو لی ترلږه یی دا وکړل چی هیواد یی د ولس واکی او دیموکراسی په لور روان کړ د ختیځ تیمور دخلکو خپلواکی یی په رسمیت وپیژندله او د وخت له غوښتنو سره یی سم حرکت وکړ په هیواد کی د جمهوری ریاست د ټاکنو لپاره یی اعلان وکړ چی د عامه سروی ګانو له امله په کی د وحید د بریالیتوب چانس ډیر لیدل کیده او د انتخاباتی کمپاین په وخت کی د خپلی یوی بشپړه سیالی چی د سوهارتو کورنی ته منسوبه وه میرمن «میګاواتی سوکارنو پوتری» باندی په غوڅ اکثریت نه بلکی په کم اکثریت د هیواد د جمهور رئیس په توګه د وفاداری لوړه وکړه او میرمن میګاواتی یی د خپلی مرستیالی په حیث وټاکله .

ولس مشر عبدالرحمن وحید چی د اسلامی علومو استاد دی خپله ۳٥ کسیزه کابینه جوړه او «دجوانو» په نوم یو تن یی چی د نړیوالو چارو ماهر ؤ د دفاع د وزیر په توګه وټاکه خو له کومی ورځی چی وحید د اندونیزیا جمهور رئیس شوی له هماغی ورځی دا سیاسی بحران دوام لری ځکه کفری نړی د مسلمانانو بریالیتوبونه نشی تحمل کولای په دی هیواد کی څو سیاسی ډلی فعالیت کوی چی تر ټولو مهمه ډله یی د «ګل کار» ګوند دی . د اندونیزیا اساسی قانون په ۱۹٤٥ میلادی کال کی نافذ شویدی ژبه یی بهاسا اندونیزیایی او د حکومت طرز یی فدرالی جمهوریت دی په اداری لحاظ دا هیواد په ۲٤ ولایتونو ویشل شوی پلازمینه یی د جاکارتا ښکلی ښار دی چی ستری او ډنګی ماڼی لری .

اندونیزیا په ۱۹٥۰ میلادی کال کی د ملګرو ملتونو په نړیوال سازمان کی د غړیتوب حق ترلاسه کړ .

نوی تخنیکی پرمختګ او دافغانستان دبیا جوړونی په بهیر باندی دهغه اغیزی (۲)

پوهنیار ډیپلوم انجنیر شریفه

په دی ترتیب د بشپړو علومو مخه د لمر انرژی ته راګرځیدلی ده . د انسانی علومو په واک کی د موجوده ارقامو او معلوماتو له مخی لمر د ٤ ملیارده کالو په شاوخوا کی په همدی شکل روښانه او موجود دی . لمر ژمونږ د ځمکی لپاره د ټولو نورو فرعی زیرمو په پرتله زیاته انرژی ورکوی . د لمر کره په یوه ثانیه کی د 10^{26} کالوری شاوخوا او د ډیرو ورځو په موده کی د ځمکی د سونګ موادو د ټولو زیرمو لکه د ډبرو سکرو ، نفت ، ګاز او لرګیو د سوځیدنی د انرژی په اندازه انرژی خپلی شاوخوا ته خپروی . د ځمکی د مخ یوازی یو سانتی متر مربع سطحه په اوسط ډول د کال په موده کی ۱۱۲ کیلو کالوری توده وخه د لمر له ځلیدونکو وړانګو اخلی . په دی ترتیب معاصر علوم د لمر په سطحه د عملیاتو د جریان پلټنه کوی .

دلمر کری د خپل موجودیت په ټول عمر کی دخپلو محروقاتی زیرمو د سلونه ٤٠ برخی مصرف کړیدی . د لمر سوځیدونکی ماده هایدروجن دی چی د ترموهستوی تعامل په ترڅ کی په هیلیم بدلیږی او توده وخه ازادوی . انسان تر اوسه په دی بریالی شوی چی دا تعامل صرف د لابراتوار په شرایطو ترسره کړی . که چیری دا معلومات تکمیل شی او انسان د دی تعامل په صنعتی کنترول او ګټی اخیستنی باندی بریالی شی نو د اوبو د انرژی د یوه لوی زیرمه په په لاس راشی ځکه چی په یوه لیتر اوبو کی شامل هایدروجن به وکولای شی د ۳۰۰ لیتره تیلو معادل انرژی جوړه کړی .

بل ډیر لوی پرابلم چی د اوس مهال د علمی تخنیکی انقلاب په مخ کی پروت دی د لوړ کیفیت او جنسیت لرونکی موادو او وسایلو د جوړولو مسئله ده . اوسنی ټول وسایل او ماشین آلات چی ژمونږ په اختیار کی دی له دوامداره ترمیم او نوی کولو پرته د زیات وخت استعمال وړ نه دی . مثلاً په افغانستان کی د سمنټو جوړولو فابریکی او د کابل پلچرخی د ورېښو اوبدلو کارخانی لا د مخکی نه زړی شویدی او په لوړ ظرفیت کار نشی کړلای . خو اوس دا ډول مواد او فلزات شته ، که چیری تری ماشین آلات جوړ شی ترډیره وخته حتیٰ تر سلو کالو پوری تری کار اخیستل کیدای شی . دا ډول مواد د ویلی کیدو او توده وخی په وړاندی لوړ کیفیت او مقاومت لری او د کوروالی ، سولیدنی ، رژیدلو او ماتیدنی د افزاو په وړاندی په لوړه کچه محکم دی . مثلاً ولفرام او یا د دغه ګروپ عناصر چی د ویلی کیدو درجه یی 350C° ته رسیږی . په وروستی وخت کی ځینی داسی مواد هم جوړ شوی چی د ویلی کیدو درجه یی د ٥ زره تر ٦٠ زره درجی سانتی ګراد ته رسیږی .

او نور کاری خاصیتونه یی هم د برلوړ دی . که د دا ډول موادو نه د تخنیک وسایل او ماشین آلات جوړ شی ، کیدای شی د تولید موثریت په څو واره زیات شی .

خو سره له دی چی معاصر علمی تخنیکی بهیر د زیاتو وسایلو طرحه کول ژمونږ د ټولنی په شرایطو کی لا د وخت نه مخکی او مشکل دی مګر بیا هم له دی پلوه د پام وړ دی چی وجود لری او په اقتصاد باندی اغیزه کولای شی . د ټولنی مخکی کیدای شی د علوم د اساساتو له مخی د پلانګذاری ، د اقتصادی صنعتی موسسو د پروژو جوړولو او په دی اړه د مناسبو طریقو تحقیق او پلټنی ته زیاته پاملرنه وشی . ژمونږ دنده داده چی د معاصر انکشاف له بهیر نه د خپلو ټاکلو کاری برخو د پاره د هیواد له شرایطو سره سم نظریات او مفاهیم جوړ او تعیین کړو . علمی ، تخنیکی انقلاب د دی امکان ورکوی چی د پلانګذاری او په بیلابیلو کاری برخو کی د ټاکلو پروګرامونو په طرحه کولو کی نوی او اغیزمن میتودونه په کار واچول شی . د دی میتودونو له جملی نه یو هم د پلانګذاری د پروګرامی کولو او مدلسازی کولو میتود دی . که څه هم عصرنا د افغانستان په اقتصاد کی د دی ډول میتود بکارول له وخت نه مخکی کار دی ، خو یوازی د اقتصاد په ځینو برخو کی تری کار اخیستل کیدای شی .

په دی میتود کی یوازی د هدف ټیټول نه بلکی د هدف لاس ته راوړلو او قابو کولو وسایل هم د یوه اقتصادی فعالیت ، یوی رشتی او یا څو رشتو په چوکاټ کی ټاکل کیږی .

د بیا رغونی او پرمختګ له پروګرام سره د علمی برخورد په بنیاد د دی اړتیا ده تر څو په هره برخه ، ټاکلی موسسی او یا د اقتصادی فعالیت د یوی څانګی په ساحه کی کره او انتقادی څیړنه وشی .

مثلاً د کابل د ځنګلک په نامه د فلز جوړولو د کارخانه په [illegible] کی [illegible] ودانی یی [illegible] ده لو ځکه د ودانی قسمت د تولید د اساسی پانګی لویه برخه جوړوی . خو ودانی د تولید د اساسی پانګی غیر فعاله برخه ده . که هغه د وسایل او تجهیزات په یوه لږ قیمت لری [illegible] دانی کی هم ځای په ځای [illegible] تولیدات [illegible] د کار دستګاوی د [illegible] ۱۰ نه تر ۱٥ متره پوری مسافه لری . چی په دی ترتیب د تولیدی د ګړنه معقوله ګټه نه ده اخیستل شوی او د تولیدی سیمی د هر متر مربع مساحت نه لږ تولیدات لاسته راځی . په نتیجه کی باید وویل شی چی ماشینونه باید ترهغی اندازی پوری چی د امنیتی تخنیک مقررات یی اجازه ورکوی ، یو بل ته نږدی لګول شوی وای چی د لږ مساحت نه د ډیر محصول لاسته راشی .

په دی ترتیب د افغانستان په حساب کی د اساسی پانګی نه د زیاتی ګټی اخیستنی او د دی پانګی د فعالی برخی د زیاتولو مسئله د پاملرنی وړ ده . بویه د پاملرنی وړ موضوع د کار د ځای صحیح او په مناسبه توګه برابرول دی . کار ګر باید د خپل کار په وخت او ساحه کی د اړتیا وړ مواد او وسایل د خپل کار په ځای کی ترلاسه کړی داسی نه چی د کار د پیل په وخت د وسایلو او موادو په خاطر د تحویلخانی تګ ته اړتیا ، په دی صورت کی د کار آمر او یا شی کولای شی د کار د وخت نه په پوره ګټه اخیستنه سره مناسبه اندازه محصولات تولید کړی .

په پای کی د نړی د دی پرمختګ ناوړه خوا او د علمی تخنیکی انقلاب د بهیر زیانمن لوری هم د یادونی وړ دی : د ځمکی د کری په مخ د انسان د استوګنی د ماحول ککړتوب او د علمی تخنیکی پرمختګ د لاس ته راوړنو نه د انسان د وژلو او بشری ټولنی د تباه ولو لپاره د وسلو او ابزارو جوړول د ډیری اندیښنی او فکر منډی موضوع ده . علمی تخنیکی انقلاب حیرانوونکی او ستر امکانات د انسان په لاس ورکړل . خو افسوس چی د دی لاس ته راوړنو د برداز یښت که برخه د سترو ملی زیرمو سره د اتومی وسلو او نورو جګړه ییزو سیالو لپاره لګول کیږی چی په وروستی وخت کی د جګړه ییزو سیالیو دا ډګر د ځمکی د کری دوچی او سمندر نه علاوه د کیهان ساحی ته هم پراخیږی . د ساینس او تکنالوژی د پرمختګ دا ډول زیان رسوونکی تګ لاره او په پوره بی مسئولیتی سره د انسانی ماحول زیانمنوونکی ککړتیا چی اوسنی نړی ورسره مخامخ ده دا حقیقت په ډاګه کوی چی نړی د تاریخ په اوسنی مرحله کی څومره د فلسفی تفکر او سیاسی ، اقتصادی ، فرهنګ په ژور فقر او کمبود اخته ده . د نړی د هیوادونو ترمنځ د سیاسی روابطو په تنظیم کی د رغنده تفکر نشتوالی او په مجموع کی د جهان په موجوده سیاسی مناسباتو کی د تعقل ژور فقر او کمبود چی د علمی – تخنیکی انقلاب د پیل او اوسنی پرمختګ سره نور هم په ډاګه شویدی له هر څه نه مخکی د ټولنیزو – اقتصادی او سیاسی اړیکو په اړه د تفکر او خیالاتو د بیا رغونی او بدلون اړتیا په ډاګه کوی بر سیره پردی د علومو او تکنالوژی د چټک پرمختګ په نسبت د انسانی معنویت او شخصیت په تکمیل کی دا ژور وروسته والی کیدای شی د ډیر خطرناک او فاجعه ئی عواقب را منځ ته کړی .

د تاریخ د اوسنی مرحلی د همدی ضرورت په بنا ، د ټولنیز ، اقتصادی او سیاسی تفکر د ژوری خالیګاه د له منځه وړلو او همدا راز د نړی د سیاسی اړیکو د نظام په جوړښت کی د تکمیل او د پرمختګ د دی بهیر د مثبت بدلون او رغونی په خاطر د اسلامی امت د سخت او اوږده جهاد په نتیجه کی په افغانستان کی د اسلامی شریعت نظام د لوی خدای «ج» په هیله او تکیه نافذ شویدی . ځکه له دی بدیو نه د لری والی او د الهی حکم په لارښوونه د انسانی ژوندانه مناسبو ، صالحو او ګټورو لارو ته له برابریدلو پرته د انسانی سلامتی د مخالفو تګ لارو نه چی په «پرمختللی» او «متمدنه» نړی کی مسلطی شویدی ، د نجات بله لاره وجود نلری .

اسلام په داسی علم تأکید کوی چی ګټور وی ، حضرت رسول اکرم «ص» فرمایی : ای خدایه ! تا نه د هغه علم نه پنا غواړم چی ګټور نه وی .

په دی ترتیب د افغانستان د اقتصاد د بیا جوړونی او پرمختګ په کار کی برخه اخیستل په حقیقت کی د اسلامی شریعت د نظام په ثبات او ټینګولو کی برخه اخیستل دی چی انشاالله د دنیا او عقبیٰ ستر اجرونه به د ځانه سره ولری .

مأخذونه :

۱- هدایات صحی سلسله تعلیمات صحی د بن . (٥) اعلامیه عمان برای بهبودی صحت با پیروی از روش های زندگی اسلامی . سازمان صحی جهان . دفتر منطقوی برای شرق بحیره مدیترانه . نقل : دکتور حسین عبدالرزاق جزایری . مدیر منطقوی سازمان صحی جهان در شرق بحیره مدیترانه .

۲- پوهاند دکتور امیر ګل میرزاد . بررسی مسأله کمبود آب در افغانستان ، جهان وجستجوی راه های عملی بیرون رفت از آن . «سره میاشت» د افغانی سری میاشتی د عالی ټولنی دری میاشتنی خپرونه . پنځه څلویښتم نشراتی کال . [illegible] ګڼه . پنځمه ګڼه .

۳- پلان انکشاف منطقوی سال ۱۳٦٥ کمیته دولتی پلانګذاری .

٤- ګزارش های احصائیوی سال ۱۳٥٤ هـ ش . احصائیه مرکزی افغانستان .

٥- ګزارش ها از ارزیابی فعالیت موسسات صنعتی کابل .

د حضرت محمد «ص» د بختور میلاد په مناسبت

ستر تحول

ملا اسدالله حنیفی

ماتي شوې تیارې دجهـالت ستا په راتلو نبی
ړنګې شوې ماڼۍ د ضـلالت ســتا په راتلو نبی
ټول بتان نسکور شول مشرکینو متې ماتې شوې
بلې شوې ډیوې دعـدالت ســتا په راتلو نبی
ستا په پیدایښت د انسانیت زمـزمـې پیل شوې
لور په لور نړۍ کې سعادت زمزمې پیل شوې
ته وې ستا جمال ؤ چې جهان یــې که رڼا رڼا
ستر تحول راغــی احدیت زمزمې پیل شوې
زړونه په تـکل شول چې دحق پلو ته وخوځي
رنګه کړئ دنیا دبربریــت جــونــګړې وسوځئ
پربردی دباطل پلو دحق پلو ته و دانګئ
ورانې بتخانې کړئ د وحشت مخـکـښان وځپئ
نور د وحدانیت دې په راتلو سره روښانه شو
شمې دحق بلې شوې باطل ترینه ستومـانه شو
لورې شوې شغلې داحدیت د کهکشان په لور
حق په زمزموشو رسیده تر خراسانه شو
خلاصې دروازې ستا په راتـلو د رحمتونو شوې
محوه هر پلو نه ترګــمې د وحــشتونـــو شوې
کور دعبدالله نه دې چې نــوریـــه بلېدلو شو
وایې «حنیـفي» ګرانه صیقل د نورو زړونو شوې



مولود مسعود ناجی بشر

مخمس حمید بر غزل حافظ شیرازی

جهان زانــس و وفـا آنزمان که مفلس شد — به کذب وفتنه وظلم آدمی که مخلص شد
چو روزګار سیه ګشت وشام غم حس شد — ستــاره بدرخشــید ومـاه مجلس شد
دل رمیده، مارا انــیس ومـونس شـد

نه اهل صومعه‌ داڅه دیر وهم نـه کـنشت — نه شیخ وزاهد ومفتی خبر زراز ســرشت
ببین به خامه تقدیر که چون نمود ونوشت — نګار من که بمکتب نرفت وخـط ننوشت
بغمزه مسئله آمــوز صـد مدرس شد

بکوی او سر سامـان وشـأن و استـغنا — بخـوی او دل دلـداد ګــان راه وفـا
بروی او رخ آشفته ګان صـدق وصـفا — ببوی او دل بیــمار عــاشـقان چو صبا
فدای عارض نسرین وچشم نــرګـس شد

بخاکبوسی او سرنهاده ام چه نــکوســت — ضیاً دیده ودل خــاک راه درګـه اوست
خیال این دل بیچاره بــــکه برسر اوست — بصدر مصطبه ام می نشاند اکنون دوست
ګدای شهر نګه کن که میر مجــلـس شد

زلطف ومرحمتش هرکجا دلیـــت شکور — زجلوه، ګل رخــــار او هــمه مـــرور
چنانکه بار به محفل نموده اســت حضور — طربسرای محبت کنون شــود معمور
که طاق ابروی یارمنــــش مهـنـدس شد

زبــغض وکـیـنه دلم چاک کن برای خدا — زمــهر غــیر دلـــم پاک کن برای خدا
بعز وارزش لــــولاک کـــن بــرای خدا — لب از ترشح می پاک کـــن بـــرای خدا
که خاطرم به هزاران ګنه مـــوسوس شد

نوای دلکـش توشـــور عــاشقان افزود — نســیم زلـف تو تاب وتوان جان افزود
فــغان و ولوله در کون وهم مکان افزود — کرشمهٔ تــوشرابی به عاشـــقان پیمود
که علم بی خبر افتاد وعقل بی حس شد

اګر چه نقد روان بی متاعــت ومقداری — به عقل قاصر خود وصف یــار کنم باری
کنون که خامه به پیمود نقــش دلداری — چوزر عزیز وجود اســت نـظم من آری
قبول دولتیان کیمیای این مــس شد

دل حمید به میـــخوارګـــی سرنجانید — بیاد باده ومـــی خــاطری مه شرمانید
کونکه ازمی ومیخوارګی پـــشیمانید — زراه میکده یــاران عنان بـــګردانیـــد
چراکه حافظ ازین راه رفت ومفــلس شد

خلاند روښان دې په راتلو شو ټول جهان سروره
اخـــرزمان سروره د بر مـــحترم یې
ستا پــه راتلو جــهان رڼا شو — نافذ احکام ټــول دمولــي شــو
شو رنګینه دې په شریعت ځمکه اسمان سروره
اخــــرزمـــان ســـروره د بر محترم یې
تــاسفروکړ لامکـان ته — حضور د رب رحیم رحمن ته
تاج د لولاک دې مبارک شه قدردان سروره
اخـــرزمـــان ســـروره د بـــر محترم یې
ته یې سردار د دوو جهانو — هم یې خاتم د رسولانو
مولې دې کړې صفتونه په قرآن سروره
اخــــرزمان سروره د بر محترم یې
مـــورد دې امت ته مورسول یې — ته د الله په در قبول یې
زموږ لپاره کوښښ وکړه په میزان ســروره
اخــــر زمـــان ســـروره د بر محترم یې
زه «دلسوز» تل نعتونه وایم — تا په نعتونو باندې ستایم
ته موشفیع یوم القیامت شه د یزدان سروره
اخــــرزمـــــان ســـروره د بر محترم یې

عبدالباری «دلسوز» شینکي وال

میلاد سرور پیغمبران

محمد حکیم «نظری»

مــــولـــــود با سعادت فخر جهان رسید
وقت شکـــســت ظلمت طاغوتیان رسید
با دوشـمیم طره، مـــــشـش وزیده است
بوی دیګر به سنبل این ګلـــستان رسید
ظلم وستم به سوی عدم رخت بـــسته است
نور دیګر به طرح دیــګر درمیـــان رسید
از خضر و تا مقام مسیحا که هرچه هست
خرم بر این که یوم ســعـیـد زمان رسید
انــسان وحور وصور وملـخ جـــمع کائنات
مستند وباده برکف هر خـــاندان رســـید
آن شــب که بود فوج ملک در نظاره اش
نور خدا ز دهـــر خــفـــا درعیـان رسید
لب در درود وشــعـت پر انوار مصـــطفیٰ
دارد لـــــبا قتـــبکه ورا ارمغـــان رسید
لات وعزا شــــکــست بــه میلاد آن جناب
رمز آشنای خـــالق کــون ومکـــان رسید
خوشبخت از این شده «نظری» ! کاندرین زمین
میلاد ګاه سرور پیغــــمبران رسـیـــد

هغه نوراني یتیم چې بشرته یې له جهالت تباهۍ اوبربادۍ څخه نجات ورکړ

علی محمد متګل

فخر کاینات، خاتم النبیین، سیدالمرسلین، محمدالامین دعبدالله زوی او عبدالله دمکي د قریشو د عبدالمطلب په زامنو کې د تولو نه کشر ؤ. د دغه حضرت نیکه ګانو له پخوا څخه د مکې د پرده داری چارې چې د عربو په نزد ډیر شریف او نیک کار ؤ په غاړه درلودلې...

د حضرت محمد «ص» د مبارک تولد نه دمخه دعربو قبیلو لویه برخه څه چې ټول په بت پرستۍ مشغول او اخته ؤ. د کعبې خونه چې له پخوا څخه دعربو د لرغونو قبایلو درجوع ځای ؤ او دغې په نزد یې ډیر تقدس درلود او قدر یې کاوه د دوی دخپلو لاسو جوړو شوو بتانو ځخه ډکه شوې وه. او هر کال اته دخپل پرستش د پاره ځانګړي او جلا بت درلود چې تر دی (۳۶۰) بتان په هغې خونه کې ایښودل شوي او ځای پر ځای ؤ. په دغو ټولو کې (هبل) لوی او ستر بت ؤ. عربانو د ایشان د خدای او بندګانو په منځ کې وسیله او د هغو پرستش یې دخدای د نږدېوالي واسطه ګڼله، خو وروسته دغه بتان د ارباب النوع په ډیبه پرستش کیدل، د جاهلیت د دورې عربو ملکي (ملایکې) او پرستش د خدای «ج» لوڼې ګڼلې او هغه یې د پرستش وړ بللې او دا تصور یې کاوه چې پیریان مقدس دي... بوله بله به یې جنګ او جګړې کولې او بوله بله به یې سره لوټول، لور زیږیدل ورته شرم ښکاریده، ترد چې کله کله به یې ژوندۍ ښخولې. دښځو د نکاح او کړو حد نه ؤ معلوم، هرچا د ومره ښځې کولی شوی چې به یې زړه غوښتلې، قمار او جواری ورته یوه ملي عنعنه او دود ښکاریده. حتی مال او ښځې به یې په قمار او جواری کې بایللې ... او داسې نورنا ډوه نعلونه به یې سرته رسول. جهل پکې وروستی حد ته رسیدلی ؤ د ښځو حقوق یې ښځې یو مخ تر پښو لاندې کړې ؤ. د بتانو په وړاندې یې د انسان او حیوان قربانۍ یو کمکی او معمولي کار ګڼاه، د شرابو څښلو ډیر زیات رواج پکې پیدا کړی ؤ د پوهې او علومو څخه بیخي بې خبره ؤ، خو شعر او خطابو پکې رواج درلود، دوی به یوللې او قصیدې ویلې او دښو یوللو او قصیدو قطعې به یې دکعبې په خونه کې ځړولې. لنډه دا چې په دغه وخت کې د عربستان حال دجهل او تورتم له امله بیخي ګډ وډ ؤ، دنړۍ دنورو مملکتونو حال هم همدارنګه ؤ، مځکې، اسمان، دهوا مرغانو او نورو ژویو او خوځندو د دوی په جهالت باندې ژړل ....

په داسې وخت کې چې دعربو مځکه د تورې تیارې، جهالت، خوارۍ، ناپوهۍ او ګمراهۍ په ستر دریاب کې ډوبه وه، لوی خدای دعربو او ټول بشر د لارښوونې د پاره خپل داسې یو ذوالعزم استازی را واستاوه چې دهغه پاک او نیکمرغه نوم حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم دی.

حضرت محمد «ص» د (۵۷۱) میلادي کال د اګست په ۲۷ دمکې معظمې د ښار د بني هاشم په محله کې د ربیع الاول په ۱۲ د دوشنبې په ورځ د الله «ج» په امر سره دنیا کې خپلې مبارکې او نوراني سترګې وغړولې چې د ده دلومړی خل د سترګو په څښلو، غړولو او پورته کولو د متعال خدای په کرم او لطف سره هغه تورتم او جهالت چې نړۍ یې نیولې وه په رڼا سره بدل کړ ...

د حضرت محمد «ص» د مبارکې زیږیدنې او تولد سره عجیبې او غریبې پیښې هم منځ ته راغلې: د کعبې لوی او غټ بت (هبل په مځکه را ولوید، د کسرئ د ماڼۍ ۱۲ کنګرې ماتې او ویجاړې شوې، د آزر او رغالي او آتشکده یو دم مړه، سره او غلې شوه ...)

هو! د حضرت محمد «ص» مبارک او نیکمرغه میلاد نړۍ له حیرانتیا سره مخامخ کړه. ټول جهان پوهیږي او دا ډیره مهمه او ارزښتناکه خبره ګڼي چې د رسول اکرم «ص» رسالت او د رسول کریم «ص» انقلاب له څه ډول حکمت څخه منځ ته راغلی؟ او په دغه ډیر لوی او ستر رسالت له مامور کیدو دمخه لکه چې په لومړی سرکې اشاره وشوه د انسان او عربو ژوند څنګه ؤ؟ او په جهان کې څومره تورتم، ظلم او ستم انسانان ځوړول...

حضرت محمد «ص» د الله تعالی په سرسپارنې کې هغه سپیڅلی پیغمبر دی چې د دوی په راتګ سره د بشر واړو څخه د بد راتلونکو تیارو لری شول، د ده له خوا سره اسلام راوړ، د اسلام په ظهور او څرګندیدو سره د بشر له ژوند نه جهالت، تورتم، بربریت، تباهي، بدبختي او بربادي کډه بار کړه. اسلام د ورورۍ او اخوت دین دی. اسلام غواړي چې اسلامي ټولنه د امن او هوسایني ټولنه وي هر سړی دې د بل د تعرض او تیری نه په امن کې وي. دا دی ورسره نه وي چې څوک د ده په حقوقو تیری او تجاوز وکړي که اجبا کوم داسې بدبخت سړی پیدا شي چې د بل په مال او خوړولو لاس پورې کړي نو د ټولنې وظیفه دا ده چې د متعرض مخه ونیسي ټول شي او د شریعت په اساس یې ته دې بد او ناوړه کار څخه چې د ټولنې یکې تباهي او بې دي نغښتي دی لاس قطع او پری کړی شي....

والله سر پیغمبر حضرت سرور کاینات محمد «ص» د خپل د راتلونکي رسالت د سرته رسولو لپاره په خپل قوم باندې په د ... د ... محبت سره دا غږ او واز کړ: ... تاسو چې شه ... ورځ د غو بتانو عبادت او پرستش کوئ، نور د هغوی عبادت پریږدئ. ځکه چې ستاسې دا مصنوعي او په خپل لاس جوړ شوي خدایان تاسو سره څه کومک او مرسته نشي کولای. او نه تاسو ترې کومه ګټه او زیان لیدلی شئ. نو هغه چې تاسو ته سود او زیان نشي رسولای دهغو له عبادت او پرستش نه لاس واخلئ. او په دې پوه شئ چې داځکه او اسمان، لمر او سپوږمۍ، ستوري، وریځې او نور ټول ذیروح او غیر ذیروح موجودات چې د نړۍ او جهان په مخ وجود لري، د دوی ټولو خالق یو دی او داهغه متعال خدای دی چې تاسې یې پیدا کړي یاست او تاسو ته روزي درکوي، ستاسو مرګ او ژوند په هغه پورې اړه لري. نو تاسې هرڅه چې غواړئ او هیله یې لرئ نو یوازې او یوازې له الله تعـالی څخه چې واحد او لاشریک دی له هغه یې وغواړئ. له غلا، زنا، قمار، شراب څښلو، چور او چپاول او له نورو داسې ناوړه اعمالو او کارو څخه لاس واخلئ. په خپلو منځونو کې او ورو ګـی ... او مساوات او ... او غــالب ... تګ لاره وګـــرځوئ. دهرچا حق ته په درنه سترګه وګورئ او هیڅ شی له چا نه اخلئ مګر په حق سره. تاسې ټول بشر یاستې او ټول بشري افراد او خلک یو له بله سره مساوي او برابر حق لري...

رسول اکرم «ص» ټول بشر او خپل قوم ته دا ښوده چې د انسان شرف او افتخار نه په مال کې شته او نه په دولت او پیسو کې، نه په رنګ او څیره کې، نه په نسب او قومیت کې، بلکې د انسان شرف، وياړ او افتخار د هغه په پرهیزګاري او تقوی پورې تړلی دی. نو هرڅوک چې پرهیزګار، متقي، مصلح او د نیکو او ښو اعمالو خاوند وي هغه د الله «ج» ښه بنده دی. تاسې له خدای «ج» څخه وویریږئ، حق او حقیقت ته په درنه سترګه وګورئ، له بدو او ناوړو کارونو څخه چې خپل ورور او همنوع او انسان ته مو پری زیان رسیږي ځان وساتئ. دا ځکه چې د انسانیت او اسلامیت له نظره هغه ښه، کامل او رښتینی انسان دی چې خدای «ج» او دهغه مخلوق یې ښه ګڼي...

په دې ستر او لوی ارشاد سره د اسلام ستر رهبر او د اسلام د قافلې مشر او سالار رسول «ص» د خدای ټول مخلوق ته دا وښوده چې د اسلام دین دحق او حقیقت دین دی، په دې دین کې د دنیــا او عـقبـێ دواړو ګټې نغښتې او پرتې دي...

مطلب دا دی او په دې باید پوره پوه شو چې د اسلام دین داسې یو دین او آئین دی چې د بشر او ټولنې د سعادت او نیکمرغۍ لپاره پکې ... بردې او اجتماعي حقوق او د حــــــ ... په ټولنه کې ... سوول شوي او اسلامي هدایات او لارښوونې د هر مرض ... دوا دی...

هو! د اسلام د مقدس دین ټول ارکان او احکام چې د رسول الله «ص» له خوا ارشاد شوي د ډیرو حکمتونو او فلسفو څخه ډک دی چې د هریوه تعمیل دعالم بشر د خیر او منفعت متکفل دی، په پوره باور او ډاډ سره ویلی شو چې اسلامي احکام او نبوي هدایات او مرغلرې د عالم بشر د ټولو نیکګیو او نیکبختیو اساس او بنسټ او د ټولو علومو بې شانه لویه دروازه او د ټولو ویاړونو او افتخارونو کیلي ده. الله تعالی دې دا ویاړ او افتخار د ټول بشر او انسانانو په برخه کړي...

اوس هم باید یاده کړو چې عربو د اسلام د سپیڅلي او مقدسې لارې څخه د اسلام د ستر پیشوا د راګرځولو او دخپلو پخوانیو باطلو لارو پیروی سره ډیر کوښښونه او زرار او تهیرونه او ډول ډول لمبیزونه وکړل. خو څه په لاس ور نغلل دا ځکه چې حضرت محمد «ص» د حق لارښود و او حق په باطل باندې بریالی ؤ. که څه هم د اسلام د پرمختګ او پراختیا په لار کې رسول اکرم «ص» او د ده د حقې لارې پلویانو له ډیرو ستونزو او تکلیفونو سره مخ شول، خو دا ټولې ستونزې، لوږې، ژوبلې او مرګونه یې پرځان ومنل، خو د الله تعالی پاکه لاره یې پری نه ښوده، او د اسلام د نوراني دین رڼا د نوراني ښیښه داسې خوره کړه چې د څرک او سپینیده داغ له وهلو سره یې د رڼا شغلې ټولې نړۍ ته ورسیدې او لاپسې خوریږي، په دې ډول یې بشر له تورتم او بربادۍ څخه وژغوره او د فساد ولې او جرړې یې را ایستلې...

د ظلمت پرده شوه څیري سپین سبا شو
چې پیدا خیرالبشر په دا دنیا شو

نامه توضیحی ریاست محترم تیلی کمونیکیشن درمورد تیلفونهای دیجیتال

به اداره روزنامه شریعت!

درشـــماره ۳۵ مـــورخ ۲۹ صفر۱۴۲۲ روزنامه وزین شریعت مطلبی در رابطه با تیلفـــون های دیجیتـال کـابل واقدامـات وزارت مخابرات به نشر رسیده بود که درآن به اظهـارات اینجـانب درآن زمـینه استناد شـده بود . از آنجـا نیکه بعضی از نکات درآن مطلب بصورت مبهم انعکاس داده شده بود وممکن بود که شکوک وشبهاتی را درین زمینه مـوجب گـردد . برای روشن شدن بیشتر جوانب فعالیت وزارت مخابرات درزمینه ایجاد سهولت برای شهریان محترم کابل ازطریق سیستم تیلفون دیجیتال مطالب ذیل لازم به وضاحت است :

کیبل های ارتباطی دستگاه بین مراکز پنجگانه شهر (مرکز -مکروریان -شهر نو - خیرخانه شیرشاه مینه) از مدرنترین کیبل فایبرنوری وتجهیزات اخذ وارسال نصب وتمدید گـردیده است کـه درآینده جوابگوی تمام سهولت های تیلی کمونیکشن که مهمترین آنها ارتباطا ت تکنالوژی معلوماتی وتیلفونی میباشد خواهد بود بطور مثال :

اگر درگذشته بین دستگاه مرکز وخیرخانه دریك زمان چهل نفر میتوانست تماس برقرار نماید باتمدید کیبل های مدرن دریك زمان دوصدوچهل هزار نفر میتوانند با هم تماس برقرار نمایند واین به معناست که اگر تاپنجاه سال آینده ظرفیت دستگاه های تیلفون به این تعداد ارتقا نماید کیبل نصب شده جـوابگوی نیـاز ها خـواهد بود .

دررابطه با کیبل های مسی لازم به تذکـراست کـه تنهـا در یك بخش از دستگاه های خیرخانه ومکروریان ها حدودبیست سال قبل کیبل مسی تمدید گـردیده بود کـه تا سی سـال آینده میتوان از آن استفاده نمود. بنا برآن به تمدید کـیـبـل جـدید ضرورتی احساس نمی شود البته دربافی بخش های شهرکابل مانند شیر شاه مینه ،حصه دوم وسوم خیرخانه مینه وپنجصدفامیلی مراکز تجارتی شهر ، قوای مرکز ، پروان دوم وسوم ، مکروریان سوم وچهـارم ، پروژه تایمنی وتمام ساحاتی که جدیدآ توسعه یافته است کیبل های مسی جدید تمدید خواهدشد که قیمت مجموعی آن به بیش از هشتصد هزار دالر امریکایی بالغ میگردد که درین هزینه بکس ها وکابینت ها نیز شامل است . هدف از نصب کیبل ها وکابینت ها در هرکوچه مارکیت ها وسرای ها این است تا برای هر مشترك تیلفون از کوتاه ترین فاصله تیلفون تمدید گردد و به این ترتیب ازخرابی ها ی ناشی از قطع شارت وآرت جلوگیری گردد .

چون مراکز پنجگانه شهرکابل ازطریق کیبل فایبر نوری با یکدیگر متصل شدند درصورتیکه درآینده تیلفون موبایل درافغانستان بکار انداخته شود به تمدید کیبل جدید ضـرورتی نخـواهد بود وبه این ترتیب هزینه آن مقداری کاهش خواهد یافت .

لازم به تذکراست که وزارت مخابرات خود را به همین پنج مرکز که فوقاذکر شد محدود نمی سازد بلکه درنظر است درآینده یك دستگاه دیجیتال درسید نورمحمدشاه مینه ودستگاه دیگر در منطقه پارك های صنعتی (پلچرخی) ودستگاه سوم درخوشحال مینه نصب وتوسط کیبل نوری به دستگاه مرکز وزارت مخابرات وصل گردد. این نکته قابل اهمیت فراوان است که شهریان محترم کابل قبل از اینکه دستگاه دیجیتال به کابل آورده شود با جمع آوری پول ومشترك شدن درتیلفون دیجیتال وزارت مخابرات را به این خدمت تشویق کردند واعتماد کامل خود را به امارت اسلامی ووزارت مخابرات عملاً ابراز نمودند ما آنچه که انجام دادیم به یاری خداوند «ج» وکمك بی شایبه مردم مسلمان ومقاوم خویش انجام داده ایم مردم بودند که به ما امکان دادند تا با پول آنها این پروژه بزرگ را آغاز کنیم وباکار وتلاش شبا روزی انجنیران وتخنیکران مومن ومتعهد ما این کار درحال انجام پذیرفتن است .ما به مردم مومن خویش وعده میدهیم که دراسرع وقت دستگاه دیجیتال خود را به شبکه های بین المللی متصل خواهیم ساخت تا باشد که با نازلترین قیمت امکانات تماس آنها با سراسرجهان رامیسرسازیم .

انشاالله.

فلسطین مشر یا سر ...

دوول شول اود پرتوربی ژوبل کړل . ښاغلی عرفات دغه برید په داسی وخت کی غندلی چی د یهود امنیتی کابینی د څپل غبرګون د ښودلو لپاره غونډه کوله . یهود یانو ویلی دی چی یهود دی پرید پر فلسطینی انتظامیی اچوی او د یهودی ښاریانو د خوندی توب لپاره به هره چاره کاروی یهودو له مخکی څخه لا د غزی تراوه او داردن د سیند لویدیزه غاړه په بشپړه توګه تړلی ده او داهغه سیمی دی چی فلسطینیان د یهودو غوج اخیستنی ته خان تیتګوی د تل ابیب په مسلمان ښتی چاپا کلیوالی سیمی کی د بمی برید د کسانو اخیستی په لټه کی پریود جومات -

عراق دملګرو ملتو ...

ورانديز رد کړ.

دملګرو ملتو د سازمان دامنیت شورا دوراندیز له مخی دغه پروګرام باید د یوی میاشتی لپاره اوږد شی چی د دغی شورا غړی په دی باب دامریکا او انګلستان دوروستیو وړاندیز ونو دپوره څیړلو لپاره وخت ومومی . دعراق هیواد ګواښ کړیدی په هغه صورت کی چی دغه بندیزونه دوام ولری عـراق به د تیلو صادرول بند کړی.

برید شوی او په اسرائیلی عربیسی بهوان ګرځیدلی دی .

تـــوجـــه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

درصورت مسدود ...

است که دارندگان کارت خبازی های مارا مردم فقیر وبی بضاعت شهر کابل تشکیل میدهد .

وی اضافه داشت : بودجه ما از طریق مسلمانان نیك اندیش ۵۷ کشور اسلامی جهان تمویل گردیده و درین راستا الرشید ترست دربین مسلمانان دنیا از اعتبار خوبی برخوردار است : چنانچه تا حال خدمات قابل ملاحظه، را درعرصه های مختلف در افغانستان انجام داده است .

وقتی از محترم ملاخیل سئوال شد کـه آیا چه فکر میکنید در چنین حالت دشواریکه مردم ما از دوسال بدینسو با مصیبت قحطی وخشکسالی پنجه نرم داشته و امروز صدها هزار نفر به خاطر حصول یك لقمه نان از یکجا به جای دیگر بیجاشده اند ، ملل متحد در نظر دارد کـه کمك های غذائی خویش را دربرابر ۴۶۰۰۰ خانواده مستمند در شهر کابل قطع نماید ؟

وی اینگونه ابراز نظر نمود :

بنظر من این امر در حقیقت یك سازش وبهانه است : البته در قبال این امر هدفی نهفته است که زیان آن به مراتب بیشتر از سودی می باشد که مردم ما عملاً امروز از این کمك ها مستفید اند .

موصوف سخنانش را اینگونه ادامه داد : درین مقطع حساس وباریك تقاضای ما از مسلمین جهان بویژه موسسات خیریه اسلامی این است تا مردم مسلمان ومستضعف افغانستان را تنها نگذاشته و کمك های غذائی وبشری شان را بیشتر از پیش تقویت ببخشند ، شاید این توجه بتواند جبران وتلافی مساعدت فعلی ملل متحد را در افغانستان بکند .

آیا موسسه، شما قادر به این است تا درصورت قطع این پروگرام بتواند ۱۵۱ خبازی را درشهر کابل کـه روزانه ۲۳۰۰۰۰ قرص نان از طریق این خبازی ها توزیع میگردد فعال نگهداشته و برای مردم توزیع بالمثل نماید ؟

محترم ملاخیل در برابر این پرسش چنین گفت : اگر ما نتوانیم صد فیصد این پروژه را مطابق تقسیم اوقات فعلی ملل متحد پیش ببریم فکر میکنم که کمك های ما در حد قابل ملاحظه برای مردم نیازمندشهرکابل خواهدباشد. مهربان

دمنځني اسيا ...

چارو وزارت محترم معین د روسی برغلګرو په وړاندی د افغانستان د خلکو د مقدس جهاد په دوران کی د افغانستان د مسلمانو خلکو د سرښندنو او ځان تیریدنو د یادونی په ترڅ کی وویل : د برلین د دیوال رنګیدل برلین ته د المان د پایتخت لیږدونه او دمنځنی آسیا د هیوادونو خپلواکی د افغانستان د مجاهد ملت د سرښندنو او اتلولیو نتیجی دی .

دغه راز محترم زاهد د افغانستان د اسلامی امارت د لورو هدفونو او ګټورو پروګرامونو په باره کی خبری وکړی او وی ویل :

د افغانستان اسلامی امارت دهیواد په سلو کی څه دپاسه ۹۵ خاوره کی بشپړه سوله تامین کړیده خو له بده مرغه د بو شمیر پیړندل شویو هیوادونو د لاس وهنو له امله زمورد هیواد په محدوده ساحه کی اوس هم جګړه روانه ده .

د بهرنیو چارو وزارت محترم معین د اسلامی امارت د اصولی دریځ د بیانولو په ترڅ کی زیاته کړه :

د افغانستان اسلامی امارت به په هغو غونډو کی چی د ملګرو ملتو د سازمان تر سرپرستی لاندی جوړیږی ګډون ونه کړی . ځکه دغه سازمان د افغانستان پرخلاف د غیر عادلانه او بی ارزښته بندیزونو په لګولو سره د خپلی بیطرفی دریځ تر پوښتنی لاندی نیولی دی او هر هغه هیواد چی په رښتینی توګه په افغانستان کی د سراسری سولی د تامینولو په خاطر هڅه او هاند وکړی د افغانستان د اسلامی امارت له خوا به یی هرکلی وشی .

وروسته ښاغلی داکتر ستوف مولر د افغانستان د اسلامی امارت د سوله ییز دریځ له امله قدردانی وکړه او وی ویل :

د المان هیواد په افغانستان کی د جګړی د ژر پای ته رسیدو او د سولی د تامین او ټینګښت هیله لری او تیار دی چی د افغانستان له خلکو سره خپلی بشری مرستی زیاتی کړی . دغه راز دغه هیأت د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل ته په رسمی دول بلنه ورکړه په هغی غونډه کی چی تیاکل شویده د جولای د میاشتی په وروستیو وختو کی د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو په ګډون په المان کی جوړه شی برخه واخلی .

دغه هیأت د افغانستان د اسلامی امارت له چارواکو سره د لیدنو کتنو او خبرو اترو په مقصد په دی وروستیو وختو کی زمونږ هیواد ته راغلی دی .

په دی کښه کی په کابل کی د المان سفارت کارکوونکی محترمی میرمن ملیسی هم برخه لرله .

مولوي محمد شاه ...

ارواښاد مولوی محمد شاه فضلی کله چی د دینی تعالیمو له زده کړ وڅخه فراغت ترلاسه کړ د مازرک د سیمی په قلندر په مدرسه کی ۱۴ کاله دلوست چاری په غاړه لرلی . کمونستانو دی بندی کړ کله چی له بند څخه آزاد شو له هیواد څخه یی هجرت وکړ او د خلق او پرچم د کمونستانو او د روسی د یرغلګرو پوځونو پرخلاف یی په جهاد پیل وکړ په لومړی سر کی د حرکت انقلاب اسلامی د تنظیم مالی رئیس او وروسته د حرکت انقلاب اسلامی د تنظیم د مرستیال په توګه وټاکل شو .

ارواښاد مولوی محمد شاه فضلی د مجاهدینو د حکومت په دوران کی د افغانستان قاضی القضات او د ستری محکمی رئیس و کله چه د ربانی حکومت په فساد کی ښکیل شو حرکت انقلاب اسلامی د ربانی له حکومت سره مقاطعه وکړه او ارواښاد مولوی فضلی هم د ربانی له حکومت سره مقاطعه وکړه .

ارواښاد د خپل ارزښتناک عمر ۶۵ کاله د اسلام مبین دین هیواد او خلکو ته دخدمت په لاره کی تیر کړل او پرون د هغی ناروغی له امله چی لرله یی د بیښور په یوه روغتون کی په حق ورسید . دارواښاد جنازه د پکتیکا ولایت داورګون ولسوالی په کلای مفتی کی دده په خپل اصلی تاتوبی کی خاورو ته سپارل کیږی.

سرك ولسوالي ...

به طول ۴۵ کیلو متر ترمیم ومورد استفاده قرار گرفت .

درمحفل افتتاح سرك مذکور عده از مسٔولین امارتی دررابطه به کار اعمار وباز سازی کشور از سوی امارت اسلامی افغانستان صحبت نموده از همکاری مردم قریه آرزو قدردانی بعمل آوردند .

یک حادثه ترافیکی .

شهید وسه نفر دیگر شدیداً مجروح گردیدند .

یك منبع موثق در زمینه به خبرنگار ما چنین اذعان داشت :

حوالی بامداد سه شنبه هفته گذشته یك موتر پك اپ مربوط دفتر M.C.P.A اداره ماین پاکی در افغانستان در مسیر شاهراه هرات - کندهار درحالیکه موتر حامل قصد داشت تا خود رابه شهر کندهار برساند مگر متأسفانه از اینکه سرعت موتر متذکره خیلی زیاد بود نتوانست کنترول موتر را ثابت نگهدارد .در اثر تصادم با یك «جمپ» چار نفر از سرنشینان موتر بشمول دریور شهید وسه نفر دیگر شدیداً زخمی گردیدند .

مجروحین حادثه به اسرع وقت به شفاخانه کندهار انتقال داده شد بعداً به همکاری مستقیم مسئولین اداره ماین پاکی مقیم شهر کندهار ذریعه یك فروند طیاره بدون تعلل به یکی از شفاخانه های اسلام آباد پاکستان انتقال داده شدند .

یو نوي جومات ...

بی دمحترم عبدالبصیر اومحترم هدایت الله خان لخوا وقف شویده او دجوړولو لګښتو نه یی محترم پروفیسر طیب محمد موسیٰ وردګ او دآریانا افغان هوایی شرکت پیلوټ محترم محمد معین په غاړه اخیستی دی .

دغه جومات چی په یوه وخت کی دری سوه تنه لمونځ کوونکی پکی ځاییږی په جوړولو کی یی طالب العلمانو ته دلوست په خونو برسیره نورضروری ملحقات هم په پام کی نیول شویدی .

دختیځ زون ...

په بهیر کی دخصوصی سکتور د ترانسپورت د وسایطو په واسطه مرکز او د دغه زون نورو ارونډو سیمو ته لیږدول شوی . او د ترانسپورت د سیر یو زرو شپږ سوه پنځوس توکه کتابچی هم د دغی اداری له خوا د ختیځ زون د ترانسپورت په بیلابیلو ارونډو وسایطو باندی ویشل شویدی د ختیځ زون د ترانسپورت اداری له تورخم څخه کابل ته د سپرلیو د لیږدونی لپاره تل تدابیری پلانونه جوړ کړیدی او د موظف هیأت له خوا یی وخت په وخت د کرایی دلایحي د تطبیق بهیر کنترولیږی .

په ژورنالیزم کی ...

سره په امارتی مطبعه کی چاپ او دلوستونکو په واک کی ورکړشو .

په دی کتاب کی چی د هیواد د مرکز دولتی پیښو او اطلاعاتو دوسایلو د کارکونکی په ۱۵ ورځنی تعلیمی او ادبی سیمینار کی د کابل پوهنتون دژورنالیزم دپوهنځی داستادانو مقالی اولکچرونه چاپ شوی دی له زرو نوکو په تیراژ په دری او پا مخونو کی چاپ شویدی . په دی کتاب کی تول مطبوعاتی ژانرونه په څرګندو مثالونو سره په لنډه توګه څرګند او بیان شویدی چی د هغو په مطالعی سره هغه تولی ستونزی او مشکلات چی یو ژورنالست یی دمطبوعاتی ژانرونو دبرابرولو او تنظیمولو په برخه کی لری ، لری کیږی او کولی شی دخپل ژورنالستیکی کار استقامتونه د هغو په رڼا کی مشخص کړی.

په اوسنیو شرایطو کی چی زمونږ ژورنالستان په خپلو ملی ژبو هیڅ راز ژورنالستیکی آثار په واک کی نلری دغه شان کتاب برابرول اوچاپول داطلاعاتو اوکلتور وزارت یو ګټور او ارزښتناک اقدام دی چی کولی شوژورنالستانو ته یی ستر سوغات وبولو.

امریکا از ...

ایران ا زهمکاری وسیع کشورهای دیگر بخصوص کوریای شمالی برخوردار است به روز پنجشنبه درتهران اعلام گردید . ایران اولین راکت زمین به زمین را که کاملاً ساخت ایران است مورد آزمایش قرار داده است . ایران قبل براین راکت قاره پیمای شهاب سه را مورد آزمایش قرار داد که گفته میشود در طرح وساخت آن کوریا ی شمالی با ایران همـکـاری کـــردهاست

معین وزارت معادن ..

محترم مولوی سعید الرحمن حقانی معین وزارت معادن وصنایع ضمن بازدید شان از بخش های مختلف فابریکه پشمینه بافی پلچرخی درحالیکه از طرف محترم مولوی عزت الله رئیس آن فابریکه توضیحات داده میشد بازدید بعمل آورده ضمن رضایت مندی از کار وفعالیت کار گران ومسٔوبین فابریکه متذکره آنها را درقسمت عرضه خدمات بیشتر وبهتر در امر بلندبردن سطح تولیدات رهنمایی همه جانبه نمود .

یك منبع مربوط گفت فابریکه پشمینه بافی پلچرخی متشکل از دستگاه شست پشم تخنابی بافت تکه رنگ امیزی ودستگاه کمك تخنیك بوده که مجموعاً دارای هفتاد و هفت پایه ماشین بافت بوده ششصد تن کار گر در دوشفت کار توظیف میباشند . ظرفیت تولیدی فابریکه مذکور سالانه درحدود پنجاه هزار متر قالین ساده وسه صد هزار متر کمبل وتکه دریشی میباشد منبع افزود:

این فابریکه یك تعداد ماشینری بافت قالین گلدار را نیز در دسترس داشته که ظرفیت تولیدی آن سالانه درحدود هشتاد هزار متر مربع قالین میباشد قابل یاد آوریست که د راحیا وباز سازی فابریکه متذکره درحدود صدهزار دالر امریکایی که شصت فیصد سهم آن از جانب امارت اسلامی وچهل فیصد آن از طرف سهم دار فابریکه میباشد پرداخته شده است .

تامین سلامتي هر ...

فیصد قوای فکری وفزیکی اطفال تا ده سالگی وبقیه ده فیصد رشد اطفال تا آخر عمر ،تکامل می یابد.

این اصل ثابت شده ، تمام توجه وتکلیف بزرگسالان وطبیبان را تاسن ده سالگی اطفال وکودکان ، به چالش میگیرد .

محترمه شهناز «شهیر» طبیبه بخش اطفال شفاخانه حوزوی خواجه عبدالله انصاری «رح» ولایت هرات ضمن اشاره به اصل مهم فوق در یك گفتگوی مطبوعاتی با خبرنگار ما گفت:

سرویس اطفال با ظرفیت ۷۰ بستر بطور مداوم اطفال زیر سنین ۱۴ سال را با خدمات رایگان پذیرفته راجستر معاینه ومعالجه مینماید و آن عده کودکان و اطفال را کـه به مراقبت های جدی نیاز دارند بستر نموده و خدمات سر پایی اطفال را از طریق کلینیك حمایه طفل ومادر انجام میدهد .

طبیبه شهناز شهیر افزود : د استانه فصل گرمای تابستان ومتاسفانه پیامد های ناگوار خشکسالی های اخیر کـه بالای زندگی و رشد طبیعی اطفال وکودکان اثرات نا مطلوبی دارد . از همین اکنون مراجعه کودکان مصاب به اسهال ، استفراق ، سوء تغذی وسایر امراض میکروبی رو به افزایش است اگر فرض کنیم کـه تنها عده قلیلی از اطفال مصاب به امراض متذکره در سرویس اطفال معالجه وتداوی ومرخص میشوند ، لیکن متاسفانه تعدادی کثیری از اطفال کشور ما به خصوص آنهائیکه در کمپ ها مهاجر میباشند و تقریباً از هرگونه خدمات صحی محروم می باشند ، درین صورت باید توصیه و تاکید نمائیم که اسهال با سوء تغذی ارتباط مستقیم دارد یعنی یکی از این دو مرض مختلف ، نتیجه مستقیم دیگری میباشد . بنا بر آن تکرار میکنیم که مادران باید دادن غذا ، O.R.S وبخصوص شیر مادر را به اطفال اسهال شان قطع ننمایند ، بلکه بر عکس غرض جلوگیری از مصاب شدن اطفال شان به سوء تغذی عملیه دادن غذا ومایعات را به اطفال اسهال شان تشدید بخشند . فرضیه قطع مواد خوراکی به بهانه استراحت و ترمیم امعاء مذکوره علمي نمی باشد . زیرا بصورت عموم ۲ بر ۳ حصه مواد غذائی در حالت موجودیت اسهال ، جذب بدن طفل میشود .

محترمه طبیبه شهیر اضافه نمود: روزانه بطور اوسط پانزده تا بیست طفل مریض در این سرویس داخل بستر گردیده کـه عمدتاً به امراض از قبیل : اسهال ، استفراق ، سوء تغذی ، انتانات طرق بولی ، تیفوئید ، کم خونی ، سرخکان و انتانات طرق تنفسی که خوشبختانه در این اواخر کمتر گردیده است، مصاب میباشند ، به این سرویس مراجعه مینمایند .

خدمات ما همگانی ومجانی بوده و در این اواخر کیفیت خدمات سرویس اطفال در سطح مناسب قرار دارد که این تحول مثبت از اثر توجه ریاست محترم صحت عامه وهمکاری های بی شایبه دفتر M.S.F دربخش تهیه ادویه با کیفیت و سایر تسهیلات لازم میباشد . بنا؛ با عنایات الهی ، کدام کمبود ومشکل جدی در این سکتور محسوس نمی باشد .

طبیبه شهیر روی اهمیت شیر مادر تأکید نموده افزود : تجارب نشان میدهد که اطفال تغذیه شده با شیر مادر سالمتر ، باهوشتر و با استعداد تر بار می ایند بنا؛ هیچ غذایی جانشین شیر مادر شده نمی تواند حتی شیر های پودری کـه باشیر مادر شباهت زیادی دارد ولی باز هم جانشین شیر مادر شده نمی تواند . دین مقدس اسلام نیز در بسیاری از موارد ، به تغذیه اطفال با شیر مادر تاکید مینماید مشوره دیگری ما تطبیق دوره های واکسیناسیون در مقابل شش مرض اطفال (توبر کلوز ، دیفتری ، تیتانوس ، سیاسرفه ، سرخکان و پولیو) ورعایت حفظ الصحه فردی ومحیطی میباشد .

گزارشگر عطامحمد «فریادی»

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq